**مطبوعاتي اعلاميه**

**د ۸۰مې مادې فعالول؛ له نويو څېرو سره د هماغه نظام ساتنه ده**

**ايا له اغزيو څخه انګور تر لاسه کېدای شي!؟**

ولسمشر قيس سعيد، له خپل تفسير سره سم، د داخلي حالت چمتو کولو او بهرني ملاتړ له تر لاسه کولو وروسته، د اساسي قانون د ۸۰مې مادې قانون تصويب کړ. هغه ناسته وځنډوله او د غړو مصئونيت يې ترې واخيست. لومړی وزير يې له دندې ګوښه کړ او د امنيتي ځواکونو په مرسته يې دولت تر خپلې ولکې لاندې راوست.

د دغو بدلونونو په اړه، موږ حزب التحرير- ولايه تونس لاندې ټکو ته اشاره کوو:

۱. کوم کار چې ولسمشر قيس سعيد وکړ، دا تاييدوي چې ډيموکراسي، ټاکنې او له نړيوالې ټولنې څخه ملاتړ لوی دروغ دي. په داسې حال کې چې، د انقلاب موخې د غرب د تاييد او څارنې لاندې نه، بلکې له غربي ډيموکراتيک نظام سره د اړيکې پرې کولو او د اسلام پر اساس د قانون په رامنځ ته کولو سره د لاسرسي وړ دي.

۲. د ولسمشر قيس سعيد او هغو غربي قدرتونو موخه، چې د ده تر شا ولاړ دي، د تونس د انقلاب د بقاياوو او لاسته راوړنو له منځه وړل دي. د هغې سياسي طبقې په اړه ټول پوهېږي، چې د ۲۰۱۱م، د جنوري له ۱۴مې وروسته رامنځ ته شوه او کله يې چې انقلاب له قدرت څخه ليرې کړ، هماغه پانګوال نظام چې خلک يې پر وړاندې ودرېدل، د انقلاب له موخو سره يې خيانت وکړ.

۳. سياسي، اقتصادي او بشري کړکيچونه چې تونس ورڅخه تيريږي، نه د ديکتاتور قيس سعيد له لوري او نه هم د پارلمان ډيموکراسۍ له لوري حل کيږي، دواړه د غربي کړيو کارمندان دي، د دوی لومړنی رول د اسلام پر وړاندې مبارزه او د غربي ګټو ساتل دي، چې ملت به د دوی په واکمنۍ کې له ناخوښۍ او ناهيلۍ پرته بل هېڅ شی ونه ګوري.

**اې د تونس خلکو!**

د پانګوال نظام د فساد په اړه له خبرو کولو پرته، د سیاستوالو او د هغوی د متحدینو پر فساد تمرکز، یوه ویجاړوونکې هڅه ده، چې د واکمنانو پر وړاندې د خلکو غوسه راپاروي، له همدې امله غربي سیستم باید له منځه ولاړ شي او دا کار د ملت پر وس پوره دی. حزب التحریر له تاسو څخه غواړي، چې د خپلې غوسې غښشي د پانګوال نظام پر لور کش کړئ او موږ د قدرت او حقیقت له خلکو څخه غواړو چې موږ ته قانون وسپاري، تر څو د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت له لارې د اسلامي دعوت لېږد او د مسلمانانو حیاتي مساله په نړۍ کې بېرته راوګرځوو.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّار وَمَا لَكُمْ مِنْ دُون اللَّه مِنْ أَوْلِيَاء ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ﴾**[هود: ۱۱۳]

*__ژباړه:__ د دغو ظالمانو له لوري ته یو بڅرې مه کرېږئ، که نه نو دوزخ به مو ونغاړي او تاسو به کوم داسې دوست او سرپرست ونه مومئ، چې له الله سبحانه وتعالی څخه مو وژغورلای شي او له هېڅ یوه ځای څخه به تاسو ته مرسته ونه رسېږي.*

**د حزب التحریر- ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د ذوالحجې ۱۷مه**

**۲۰۲۱م، د جولای ۲۷مه**

**د صدور ګڼه: ۴۴/ ۱۴۴۲**